# په لوګرکې د ۳۷۵۲ تنوزده کوونکوڅخه دکانکورآزموینه واخیستل شوه

په لوګرکې د ۳۷۵۲ داوطلبو زده کوونکوڅخه دکانکور ازموینه دلوګرپه عالي محمدي دارالعلوم کې دمرغومې په ۲۲ مه او ۲۷ مه واخیستل شوه.

دلوړو زده کړو وزارت د دې ازموینې د اخیستلو په موخه د پوهنیار احمد جاوید رسولي په مشرۍ خپله یوه څلویښت کسیزه کمیټه رالیږلې وه، چې د همدغې کمیټې د غړو له خوا د دو ورځو په لړکې دکانکورآزموینه واخیستل شوه.

د پوهنې ریاست ویاند محمدشاه پورعرب دلوګرجریدې خبریال ته وویل، چې دغه آزموینه په پوره بې طرفۍ، رڼتیا او د بشپړې سولې او امنیت په فضا کې واخیستل شوه. عرب وویل، په دغه ازموینه کې ټول ټال ۳۷۵۲ تنو داوطلبانو ګډون کړی ؤ، چې شاوخوا ۲۵۴ تنه یې نجونې وې، چې په دې کې ۲۵۲۵ تنه یې د سږکال د دولسم ټولګي فارغان او ۱۱۹۱تنه دمخکنیو کلونو متفرقه او د پلې هاخوا (خارج مرز) دواطلبان شامل ؤ.

عرب زیاته کړه، د کانکورد آزموینې داخیستو په لړکې د ټولو غیري قانوني لارو مخه نیول شوې وه او هیڅ چاته اجازه نه وه ورکول کیده، چې په دې ملي پروسه کې غیري قانوني کړنې ترسره کړي.

دعرب په خبره، د لوګرد سږني کانکور ازموینه د تیرو کلونو په پرتله ډیر توپیر درلود، ځکه چې د تیروکلونو په ازموینوکې دولتي چارواکي او نور نامسؤلو کسانو په آزاد ډول دازموینې په صحنې کې ګرځیدل خو دا ځل په دې ازموینه کې د دوی د ټولو د ګرځیدو مخنیوی شوي ؤ.



دویلو وړده، چې تیرکال په لوګرکې دکانکورپه آزموینه کې ۳۷۳۹ تنو زده کوونکو ګډون کړي ؤ، چې د تیرکال دآزموینې په پرتله سږني کانکور ګډونوالوشمیر ۱۷ تنه پکې زیاتوالی راغلی دی.

# افزایش بیست و چهار درصدی عواید مستوفیت لوگر



عواید مستوفیت لوگر نسبت به یک سال گذشته بیست و چهار درصد افزایش داشته است.

به اساس ارقام ارایه شده ، مستوفیت لوگر امسال نزدیک به یک صدو هفتاد وهشت ملیون افغانی عاید داشته است.

سید علم شاه حسین زاده مستوفی لوگر به آژانس باختر گفت که با افزایش بیست و چهار درصد ی عواید مستوفیت ، امیدها برای بهتر شدن میزان عواید این اداره در سال های بعد افزایش یافته است.

او گفت که امسال نزدیک به یک صدوهفتاد و هشت ملیون افغانی مستوفیت لوگر به دست آورده است.

این عواید بیشتر از جمع آوری مالیات ازفروشگاه ها ، ملکیت ها و اداره های دولتی لوگر به دست آمده است.

محمد حلیم فدایی والی لوگر با استقبال ازافزایش عواید ، جمع آوری عواید را بهترین راه برای پیشرفت و خود کفایی افغانستان خواند.

اوازکارکرد مستوفیت لوگر درچگونه گی جمع آوری عواید سپاس گزاری کرد. باختر

## داطلاعاتو او فرهنګ په ریاست کې د واده (ازدواج) ترسرلیک لاندې دمقاله لیکلو سیالۍ په لارواچول شوه

داطلاعاتو او فرهنګ ریاست دلنکن ښوونیزپه مرکز کې دمقالولیکلو اولوستلو سیالۍ چې داطلاعاتو او فرهنګ آمریتونو په نوښت او ابتکار جوړه شوې وه، دمرغومې په ۳۰ مه په لاره واچول شوه.



دمقالو لوستلو په غونډه کې داطلاعاتو او فرهنګ رئیس محمدشفیق پوپل، دښځوچارو رئیسه شیما زرګر، داطلاعاتو او فرهنګ ریاست کارکوونکي، دلنکن ښوونیزمرکزمسؤل عبدالفتاح مفلح او ددې مرکز زده کوونکو ګډون کړي ؤ.

غونډه د قرانکریم په تلاوت سره پیل شوه، داطلاعاتو او فرهنګ رئیس محمد شفیق پوپل ګډونوالوته دموضوع په اړه معلومات وړاندې کړل، پوپل دمقالولیکلو اولوستلو سیالۍ، موخه دځوانانو تشویق، جرئت ورکول او دادب په پیاوړتیا کې مهم او ارزښتناک ګام وباله.

دلنکن ښوونیز مرکززده کوونکودواده (ازدواج) په تړاؤ ۵۰ مقالې ترتیب او داطلاعاتو او فرهنګ آمریتونو ته سپارلې وې، چې دغو آمریتونو وکولی شول، دلسوتکړه او ممتازو مقاله لیکوونکو مقالې غوره او په جوړه شوې غونډې کې خپلې مقالې ګډونوالوته واوروليې؛ په دغو مقالوکې پنځه تنه دهلکانو او پنځه تنه دنجونو مقالې غوره شوې وې او هریوو په وار سره خپلې مقالې د داورانو په شتون ګډونوالوته ولوستلې، چې په کې د واده (ازدواج) په اړه معلومات او موضوعات لیکلې ؤ او د داورانولخوا دمقالې لیکلو او لوستلو په اړه نظرونه دمقالولیکوونکوته په راتلوونکي کې دښې اوغوره مقالې په لیکلو او لوستلوکې دمرستې په توګه ورکړل شول، چې دمقالولوستلو په پای کې درې تنه لومړۍ، دویم او دریم غوره مقاله لیکوونکي اولوستونکي وپیژندل شول، چې دغو تکړه او ممتازو مقاله لیکوونکو اولوستونکوته داطلاعاتو او فرهنګ ریاست لخوا سوغاتونه او ډالۍ ورکړل شو.

پاتې دنه وي، چې یوه اونۍ وړاندې هم ورته سیالۍ، داطلاعاتو او فرهنګ ریاست؛ داطلاعاتو او فرهنګ آمریتونو لخوا دعلم دارزښت ترسرلیک لاندې په لار اچول شوې وه.

## ژورنالیستان باید د وینې تویولو پرځای د خولې تویولو خبره دخبر په پیل کې راولي

دغه ټکی؛ لوګروالي محمد حلیم فدایي دپل علم په ښارکې د ناورتعلیمي پروګرام دپیل پرمهال وکړه. دناورښوونیز پروګرام دپیلیدو په غونډه کې، چې دمرغومې په اومه جوړه شوې وه، د لوګر والي سربیره؛ د ناور تعلیمي پروګرام مسؤل اباسین بریال، د اطلاعاتو او فرهنګ رئیس محمد شفیق پوپل او ګڼ شمیرځوانانو ګډون کړي ؤ.

محمد حلیم فدایي؛ ددې ښوونیزمرکزدپیل په مراسموکې ځوانانوته د خپلو خبروپرمهال وویل: دنهه میاشتني ښوونیزپروګرام تاسوته دا مسؤلیت درپه برخه کوي، کوم، چې نن هغه دهیوادلپاره اړتیا لیدونکي دي، ځکه چې ژورنالیزم د ولس سترګې دي او په کار ده چې لارویان یې خپل کار په بې لورې، کره او دقت ترسره کړي.

والي ځوانان ته دوخت په ارزښت وویل: نن ورځ تاسوته لوی چانس برابرشوی، چې باید دوخت په استفادې دغه سترچانس له لاسه ورنه کړئ او خپل ښوونیز زده کړې ته دوام ورکړئ، ځکه چې وخت تیریدونکی ده او بیرته نه ګرزي.

والي وویل: ژورنالیستان باید دخبرپه پیل کې دوینې تویولو، مرګونو، وژنو او ورانولو پرځای هغه وکړي، چې دبیارغونې، جوړونې او سمسورونې خبرځای پرځای کړي، ترڅو دغه منفي کلمې دخلکو له ذهنونوڅخه پاکې او ځای یې مثبتې کلمې ونیسي.

همدارنګه فدایي، د ژورنالیزم په ارزښت هم خبرې وکړې او ځوانان یې په دې برخه کې عملي کارونو ته وهڅول.

دیاد پروګرام مسول اباسین بریال لوګرجریدې خبریال ته وویل: چې په دغه ښوونیزپروګرام کې به ۹۵ تنه هغه ځوانان د ژورنالیزم په برخه کې وروزي، کوم چې دښوونځیو او مدرسو زده کوونکي دي. اباسین زیاته کړه، چې یاد پروګرام به نهه میاشتې دوام وکړي او د عملي ژورنالیزم په برخه کې زده کوونکي روزي.

تصمیم نیول دبري لومړی شرط دی.

**شعرهغه پاروونکې سازدی، چې دطبعیت،بشراوپیښوآوازونه یې سره یوځای کړي دي. «ویکتور هوګو»**

# دلوګر سلګونو تنو اوسیدونکو دکرکټ دبریا جشن ولمانځل

دافغانستان دکرکټ ملي لوبډلې د زیمبابوې هیواد پروړاندې؛ چې د شارجې په ښارکې د ۵۰ آوریزو او ۲۰ آوریزو سیالیو په ګټلو سره دبریالیتوب جام ترلاسه کړ، د پل علم ښاراوسیدونکو دغه ستربریالیتوب دسپورټ په ډګرکې په آتڼونو او خوښیو ولمانځل.

ددغو ځوانانو شمیر سلګونو تنو ته رسیدل، چې دښارڅلورلارو او جادو ته راوتلي له ځانونه سره یې دافغانستان ملي بیرغ لیږدول او هیوادوالوته ددې سترې بریا مبارکي ترڅنګ؛ ژوندي دې وي دافغانستان میړني اتلان، ژوندی دوي افغانستان او په هیوادکې دسولې، ملي یوالې او دامنیت ټینګښت شعارونه ورکول، چې دغه ځوانان دښار دهیوالو او نورو اوسیدونکو لخوا په کلکه توګه بدرګه کیدل.



دښارڅوتنو اوسیدونکي چې ډیرخوښ او خوشحاله بریښیدل؛ دجریدې خبریال سره په ځانګړې مرکه کې وویل: زمونږملي اتلانو نړیوالوته خپل میړانه او اتلولي په ډاګه وښودل، چې افغان غیرتي ولس لکه څنګه چې ځلانده تاریخ له ځانه پریښې همدارنګه دلوبو په ډګرکې هم ستروياړ خپلو هیوادوالو لپاره ترلاسه کړ.

لوګري ځوانانو دغه ستروياړ او بریالیتوب دهیواد په امنیت، ملي ثبات، بیارغونې او جوړونې لپاره یونیک پال وګڼل، چې ډیري ځوان به وهڅیږي، دافغانستان ملي ګټوته درناوی او په دې لاره کې نه سترې کیدونکې هلې ځلې ترسره کړي. دغو ځوانانو دوسلوالو مخالفو ډلو څخه هم غوښتنه وکړه، چې راځئ، دپلرونو او نیکو سرښندونوته په درناوي؛ څنګه چې نن سره راټول شوي یو، نورجنګ او جګړوته دپای ټکی کیږدئ او ورته جشنونه دورورولۍ او دیوالې چترلاندې ولمانځو، ترڅو زمونږ هیوادوال دشته ناخوالو او بدبختیو څخه خلاصي ومومي.

دویلو وړده، چې دکرکټ ملي لوبډلو پنځه ۵۰ آوریزې او دوه ۲۰ آوریزې سیالۍ دزیمبابوې هیواد پروړاندې ترسره کړې، چې د ۵۰ آوریزو؛ درې سیالۍ اود دواړه ۲۰ آورزیزې سیالۍ دافغانستان ملي لوبډلو په بریالیتوب ددوجامونه په ترلاسه کولو پای ته ورسیدی.

# پنجاه و چهار جلد کتاب به کتابخانه عامه لوگر مساعدت شد

یک باشنده علم دوست ولایت لوگرپنجاه و چهار جلد کتب مختلف النوع را به کتاب خانه عامه ریاست اطلاعات و فرهنگ اهداء کرد.

عبدالاحمد فیضی مدیرکتابخانه عامه ریاست اطلاعات وفرهنگ ولایت لوگر گفت:



قیس منگل یک تن از جوانان علم دوست وبا احساس این ولایت پنجاه و چهار جلد کتب مختلف النوع را که شامل کتاب های آماده گی کانکوروکتب مختلف النوع دیگرمیباشد ، جهت غنامندی کتابخانه عامه اهدا نمود.

قابل یادآوری است که قیس منگل قبل از اهداء کتب دو قلم صنایع دستی را نیز به موزیم محلی لوگر اهدا کرده بود. باختر

Logar لوګر

دامتیازخاوند : دلوګراطلاعاتواوفرهنګ ریاست
مسئول مدیر: شیر محمد امیني «ستانکزی»
داړیکې شمیرې : ۰۷۰۷۲۴۴۲۲۸ / ۰۷۴۴۴۲۶۴۲۸
کتنپلاوي : محمدشفیق «پوپل» ، امین الله «صفا» او محمد زاهد «سلطانی»
محمدموسی " عدیل" دباخترداطلاعاتي آژانس خبریال
کمپوز او ډیزاین : ش . امیني «ستانکزی»
برښنالیک : shir.stanikzai2@gmail.com
چاپ ځای : سهرمطبعه کابل افغانستان